مجله علمی- تحقیقی جوزجانان

دوره ۱۷، شماره ۱ (مسلسل ۴۴)، بهار و تابستان ۱۴۰۳، صفحات ۱۰۷- ۱۱۸

# د مصطفی سالک د شعر ژبه

**عبدالکریم احمدی**

پوهنمل، پښتو څانگه، ښوونې او روزنې پوهنځی، جوزجان پوهنتون، شبرغان، افغانستان.

https://orcid.org/0009-0002-0178-5244 - karimahmadi1369@gmail.com

(تاریخ دریافت: ۱۴۰۲/۱۱/۲۲ - تاریخ پذیرش: ۱۴۰۳/۳/۸

---

**لنډیز**

*شعر هغه مخیله وینا ده، چې د الفاظو له اوډون څخه رامنځته کېږي، طبیعي ده چې شاعرانه الفاظ ښکلي او زړه راښکونکي وي، هر شاعر هڅه کوي داسې شعرونه ولیکي چې شعرونه یې لوستونکي ولري، خو دا هم یوه څرگنده خبره ده، و شعر هغه وخت لوستونکي درلودای شي، چې ژبه یې ساده، روانه او خوږه وي، تر څو د لوستونکي پر زړه او ذهن اغېز وکړي، د اغېز خبره بیا د شاعر په فکر او نوښت پورې تړلې ده، د دې مقالې سرلیک د مصطفی سالک د شعر ژبه ده؛ دی د پښتو ژبې فکري او نوښتگر شاعر دی، د ده د آثارو په لوستلو د لوستونکو د ادبي تندې د ماتې ترڅنگ د معلوماتو زېرمه هم پیاوړې کېږي، نو ما هم په دې مقاله کې د ده د شعري کتابونو څخه هغه بیتونه غوره کړي دي؛ چې د بیاني ښکلاوو ترڅنگ ښکلي شاعرانه ترکیبونه، عبارتونه او اصطلاحات لري. د دې څېړنې په ترسره کولو سره به لوستونکي د شعري ژبې سره آشنا شي او له دې څېړنې څخه زما موخه د سالک د شعري ژبې ځانگړتیاوې، ادبي سبک او د موضوعاتو تحلیل دی،* په دې څېړنه کې له تشریحي مېتود څخه گټه اخیستل شوې ده، چې د څېړنې ډول مې کتابتوني دی. *د سالک شعرونه د طبیعت، عشق او انساني تجربو د تفکر انعکاس کوي، او له لوستونکو سره د یو ځانگړي احساس او تجربې ارتباط لري.* دپایلې په توگه دا ویلای شو چې د ده شعرونه د احساساتو او تجربو یوه تازه او جذابه انځورگري وړاندې کوي. شعرونه یې د ژوند په مختلفو اړخونو، لکه عشق، درد، امید، تصوف او ټولنیزو مسایلو باندې تمرکز کوي. *ښاغلي سالک پښتو ادب ته د شعر وشاعرۍ ترڅنگ گڼ هنري نثري آثار هم ډالۍ کړي دي او پښتو ژبې او ادب ته یې نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي.*

**کلیدی کلمې:** *استعاره، تخیل، تشبیه، شاعرانه ژبه، شعر.*

# The Language of Mustafa Salik's Poetry

**Abdul karim AHMADI**

Senior teaching assistant, Department of pashto Language and Literature, Faculty of Education, Jawzjan university, Sheberghan, Afghanistan.
karimahmadi1369@gmail.com - https://orcid.org/0009-0002-0178-5244

**(Received: 11/02/2024 - Accepted: 28/05/2024)**

## Abstract

*Poetry is an expressive form that arises from the arrangement of words. Naturally, poetic language is beautiful and captivating. Every poet strives to write poems that will attract readers, but it is also evident that a poem can only have readers if its language is simple, fluid, and sweet, allowing it to resonate with the hearts and minds of its audience. When discussing influence, this is closely related to the poet's thought and creativity. The title of this article is "The Language of Mustafa Salik's Poetry" because he is a thoughtful and innovative poet of the Pashto language. Reading his works not only quenches the literary thirst of readers but also enriches their knowledge. In this article, I have selected verses from his poetry collections that feature both linguistic beauty and exquisite poetic constructions, phrases, and terms. Through this study, readers will become familiar with poetic language. My aim is to analyze the characteristics, literary style, and themes of Salik's poetic language. This research employs a descriptive method, and the type of study is liberarian. Salik's poetry reflects thoughts on nature, love, and human experiences, establishing a unique emotional and experiential connection with readers. As a conclusion, it can be said that his poems present a fresh and captivating depiction of emotions and experiences. His poetry focuses on various aspects of life, such as love, pain, hope, mysticism, and social issues. In addition to his poetry, Mr. Salik has contributed numerous artistic prose works to Pashto literature, providing invaluable services to the Pashto language and its literary heritage.*

**Keywords:** *Metaphor, Imagination, Simile, Poetic Language, Poetry.*

**سریزه**

خوشال ویل ته خو په شمار کې راغلې　　　　ســــــالکه مخکې شه پګړۍ ووهــــــه

(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۵۷٤).

مصـطفی سـالک د پښتو ادب معاصري دورې په شـاعرانو کې يو مخکښ شـاعر، ليکوال او څېړونکی دی، دی يو فکري او نوښـتګر شـاعر دی، په ځانګړې ډول د پښـتو غزل لپاره يې ډېر کار کړی دی او د غزل ترڅنګ يې نظمونه هم ليکلي دي، د ده د شــاعرۍ قوت په دې کې دی چې ده په خپل کلام کې الفاظ په ډېر ماهرانه ډول کارولي دي، په شعرونو کې يې د خيال تصوير اوچت او په کلام کې يې ځانګړی اغېز پروت دی، چې په لوستلو يې لوستونکي متاثره کېږي.

ښکلي تصويرونه، سمبولونه، ترکيبونه، په زړه پورې محاورې او اصطلاحات ده په خپل کلام کې راوړي دي. د دې موضــوعاتو ترڅنګ د ده د اشــعارو تصــوفي برخه ډېره درنه ده، ډېر کم شـاعران به وي، چې دا ډول پنځونې خپلې ژبې او ادب ته ور وبخښـي. سـالک د پنځوونکي تر څنګ څېړونکی او کره کتونکی هم دی، او په دواړو برخو کې يې د پام وړ کارونه تر سره کړي دي، نو ما هم اړينه وګڼله، چې يوه مقاله (د ســالک د شــعر ژبه) تر عنوان لاندې وليکم، په دې مقاله کې زه د سالک په شعري ژبه او د ده د کلام په سلاست را څرخېدلی يم.

هره څېړنه يوه موخه لري، تر څو څېړونکی د يوه مناسب مېتود په کار اچولو سره ځان موخې ته رسـوي. بې موخې څېړونکی نه شي کولای، فايده من او ګټور څيز ټولنې ته وړاندې کړي، نو هره څېړنه بايد ټاکلې او ځانګړې موخه ولري؛ نو له دې څېړنې څخه زما موخه دا ده چې د سالک د شعر سلاست او خوږوالی درنو لوستونکو ته وښايم.

د څېړنې لپاره د مېتود غوره کول لازمي کار دی، ما هم د دې څېړنې لپاره له توصيفی- تحليلي مېتود څخه ګټه اخيستې ده، د څېړنې ډول مې کتابتوني دی. په دې څېړنه کې به د دې پوښتنې د سالک د شعر ژبه څه ډول ده؟ ځواب ترلاسه کړو.

د سالک په اړه ځينو کسانو مقالې او آثار ليکلي دي، خو تر اوسه يې په اړه کوم مستقل کتاب نه دی ليکل شوی. همدا راز د پښتو ادبياتو معاصر تاريخ کې هم نوموړی پېژندل شوی دی، يوه برخه يې مقالې او ځينې يې علمي آثار دي، چې بېلابېلو ليکوالو ورباندې ليکلي دي او ځينو ته يې اشاره کوم:

۱ – د سپېڅلو رازونو شاعر تر سرليک لاندې استاد اسدالله غضنفر يوه مقاله د جادوګر هنر کتاب کې چې په ۱۳۹۳لمريز کال د مومند خپرندويې ټولنې لخوا چاپ شـوی دی، د سـالک په هکله يې ليکلې ده.

۲ – هجرت الله قدردان د سالك په کلام کې د محاورو او اصطلاحاتو څېړنې تر سر ليك لاندې خپل علمي اثر ليکلی دی. خو د (د مصطفی سالك د شعر ژبه) په نوم دا لومړی څېړنه ده.

**الف: د مصطفی سالك لنډه پېژندنه**

ښاغلی مصطفی سالك په ۱۳۵۰ کې د ننگرهار د کنډي باغ د قاضيانو په کلي کې د سيداجان سالك کره زېږېدلی. پښتو غزل او نظم کې د ځانگړې لارې شاعر دی. د ده لار د مينې او ښکلا د راز و نياز لار ده. د طاووس ښکه، سندريزې چينې، توري ستوري او سپرلی په خال کې يې شعري ټولگې دي چې په ۱۳۷۷، ۱۳۸۳، ۱۳۹۰ او ۱۳۹۳ کې خپرې شوې. سپرلی په خال کې د لومړيو درېوارو شعري ټولگو او ورسره د "غمي په کچکول کې" شعري ټولگې گډه شعري مجموعه ده، چې"غمي په کچکول کې" يې تر دغه مهاله وروستۍ شاعري ده.

د معاصر معياري شعر لپاره ر ټولو اهمه ځانگړتيا دا ده چې شاعر له خپل کلاسيك او معاصر شعر و ادب سره ژور تړاو لري. ښاغلي سالك دغه تړاو او تړون ته له پوره دقت سره پام کړی. د ده په شاعرۍ کې د ځينو معاصرو شاعرانو اثرات څرگند دي. په ځانگړې توگه د حمزه بابا (خيبري) ښوونځي سره خپل تړاو ته په ځينو بيتونو کې خپله هم څرگندې اشارې لري.

**ب: د شعر پېژندنه**

شعر د عربي ژبې ويی دی، په عربي کې پوهېدلو او موندلو ته وايي او اصطلاحا شعر په ښکلې او آهنگينه ژبه د فکر او خيال عاطفي تړون دی (آزمون، ۱۳۹۹، ص. ۱۸).

دوکتور منصور رستگار فسايي ليکي: (شعر هغه مخيله وينا ده، چې پر زړه اثر ښندي او په لوستونکي کې د غم او ښادۍ حس پيدا کوي) (رستگار فسايی، ۱۳۸۰، ص. ۳۸).

سرمحقق سيدمحی الدين هاشمي کاږي: (د شعر لپاره شعريت يا تخيل بنستيز توکی دی) (هاشمي، ۱۳۹۵، ص. ۱٦۲).

دوکتور جمشيد رشيدی ليکی: (شعر هغه ساده وينا ده، چې احساسات او باطني هيجانات ورسره گډ وي (رشيدی، ۱۳۹۷، ص. ۲۴۴).

پوهاند دوکتور لال پاچا آزمون ليکي: (شعر دخيال او عاطفې هغې غوټې ته ويل کيږي، چې ژبه يې آهنگينه ښه ولري) (آزمون، ۱۳۹۷، ص. ۱۸۲).

**ج: د شعر ژبه**

د شعر ژبه له عادي ژبې سره توپير لري، عادي ژبه هغه ژبه ده، چې هر لوستونکی په اسانۍ سره کولای شي مطلب ترې واخلي معنا او مفهوم درك کړي؛ خو د شعري ژبې درك اسانه کار نه

دی، لوستونکی په اسانی نشي ـ کولای معنا او مفهوم درک کړي، ځکه چې په شعري ژبه کې ابهام پروت وي او د دې ترځنګ په شعر کې کلمات د اصلي معنا ترڅنګ ضمني مانا لري چې دا د پام وړه خبره ده.

د دې موضوع اړوند درمل کاړي: (ویل کېږي، چې ژبه د انسان تر ګردو لویه او مهمه اختراع ده؛ د ژبې په مرسته انسان وکړای شول، چې خپل فکر نورو ته ولېږدوي او بشري مغزونه له تجریدي حالته د اړیکو او راکړې ورکړې یوه متداوم جال ته را کش کړي؛ په بله ژبه، ژبه د پخواني بشر ـ نړۍ جال دی، چې د بیولوژیکي کمپیوټرونو(انساني مغزونو) تر منځ یې اړیکې پیدا کړې او انسانان یې د فردیت له سمڅو ټولنیز ډګر ته را وباسل. یونګ وایي، چې د انسان روح څلور ډوله فعالیتونه لري: هیجان، احساس، فکر کول او شهود. په دې فعالیتونو کې فکر کول یوازې د ژبې په واسطه ممکن دی او نور درې عملونه غیر ژبني فعالیتونه دي خو که وغواړو، په ژبنیو هغو یې هم بدلولای شو. شعر د هنرونو له ډلې هغه ظریف هنر دی، چې د خپل وجود د اثبات او ظهور لپاره ژبه د وسیلې په ډول استخداموي؛ که ژبه نه وي، شعر نشته. موسیقي، انځورګري، ډبرتوړنه او نور هنرونه د اظهار لپاره نورې وسیلې لري، خو شعر، چې د شاعر د ذهن له تیارو د لوستونکیو او اورېدونکیو د حواسو نړۍ ته راځي، نو باید د ژبې جامې واغوندي؛ په بله وینا شعري بنیادمان د ژبې له ختې څخه رغېږي. د شفیعي کدکني وېناده، چې «شعر په ژبه کې را منځته کېدونکې پېښه ده، په حقیقت کې شاعر د شعر په مرسته په ژبه کې داسې کار کوي، چې لوستونکی د ده د شعر او ورځنۍ ژبې ترمنځ یو توپیر احساسوي، د شعر ټول عناصر لکه تخیل، عواطف، آهنګ او فکر دخپل نمود او اظهار لپاره ژبې ته اړتیا لري او که ژبه نه وي، ممکن انسان دخپل تخیل او مافی الضمیر د اظهار لپاره بله وسیله وکاروي، خو تخلیق ته یې شعر نه شو ویلای؛ په دې صورت کې به د نوموړي انسان هنر د هنرونو په کومه بله څانګه پورې وتړو، خو شاعر نه دی او تخلیق یې هم کومه بله هنري پدیده ده» (درمل، ۱۳۹۵، ص. ۳۳۹).

**د: د مصطفی سالک شعري ژبه**

مصطفی سالک د پښتو ژبې په اوسنیو شاعرانو کې یو له هغه شاعرانو څخه دی، چې غزلې او نظمونه یې ښکلي مضامین لري او د خیال په ګاڼه سمبال دي، چې دا کار د هر شاعر له وسه پوره نه دی، سالک د ښکلو غزلونو ترڅنګ نظمونه هم لیکلي دي، چې آن د ده نظمونه د خیال په ګاڼه سمبال دي.

محمدداود وفا لیکي: «سالک فلسفي ذهن لري او د پښتو په ښو شاعرانو کې ګڼل کېږي. په شعر کې یې د نوي شاعرۍ ټول تلازمات پوره کړي او د ښه شعر ملکه یې په برخه ده» (وفا، ۱۳۹۸، ص. ۲۸۳).

سالک هغه شاعر دی، چې په شاعرانه ژبه پوره برلاسی دی، ده په خپلو نظمونو او غزلونو کې ښایسته مضامین په ښکلو ترکیبونو کې را اخیستي دي. استاد پسرلی وايي: «د سالک شعرونه د خیال، مطلب او مضمون پشتوانه لري، د هنر په بازارونو کې د رالوېدلو خطر له امکانه لرې ښکارېږي، تصویر ساز تخیل یې د تغزل په مرسته د بنګړو غوندې خبرې کوي» (سالک، ۱۳۹۳، ص. ۸).

ښاغلي سالک خپله شاعري، په خورا ښکلو شاعرانه ترکیبونو سازه کړې ده. دی وايي:

راشه د بنګړو په شرنګ کې پټ کړه ما لږ په الهامي آهنګ کې پټ کړه ما
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۱۰۶).

په پورته بیت کې د بنګړو شرنګ او الهامي آهنګ ښکلي شاعرانه ترکیبونه دي، د بنګړیو د شرنګ ترکیب سربېره پر دې چې الهامي آهنګ ګڼل شوی دی، یو ښکلی غرېز تصویر هم دی، چې د لوستونکو روان په حرکت راولي. د ده کلام دومره خوږ دی، که یې څوک لولي او که یې اوري په زړه او ذهن یې کښېني، دی بل ځای داسې وايي:

سالکه ټول پرهر پرهر وګرځې چې شاعری کې دې اکسیر ډېر شي
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۵۱۲).

شاعرانه ترکیبونه، د شعر په لفظي جوړښت کې خورا رول لري، ده په خورا ښکلي انداز په خپل کلام کې را نغښتي دي. بل ځای وايي:

ښکلیو سترګو ته مې زړه حرا، حرا شي لکه توري د قرآن را باندې اوري
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۲۱۴).

په پورته بیت کې ښکلې سترګې توصیفي ترکیب دی، چې ښکلیو (جمع صفت) او (سترګې) موصوف دي، چې د صفت او موصوف له یو ځایوالي څخه ښکلی توصیفي ترکیب جوړ شوی دی او د دې ترکیب په راتګ سره بیت ته یوه ځانګړې ښکلا ور بخښل شوې ده.

سالک وايي:

ستا د سترګو کتاب وایم، ستا نظر زما خوښېږي اوس د مینې په مذهب شوم، پیغمبر زما خوښېږي
(درمل، ۱۳۹۵، ص. ۳۶۰).

په پورته بیت کې د (سترګو کتاب) تشبیهي ترکیب دی، یعنې سترګې له کتاب سره تشبیه شوې دي، سترګې مشبه او کتاب مشبه به دی په اسانۍ سره لوستونکی کولای شي دا توکي سره بېل کړي.

سالک کله کله ډېر خواږه او زړه راښکونکي الفاظ کاروي، چې ډېر کم شاعران دا مهارت له ځانه سره لري، چې شعرونه یې لوستونکي ولري؛ ځکه شاعري یوازې د الفاظو پیودل نه، بلکې د تخیل پر مټ د الفاظو اوبدل دي. له نېکه مرغه د سالک شاعري د دغه ځانګړنو درلودونکې ده.

سالک وایي:

ستا له اغزو اغزو خبرو هم وربښم جوړوم په شــاعرۍ کې مینه ناکه نوا دې ته وایي
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۵۰۶).

ډېری شاعران هڅه کوي، خپل شعر وشاعري له کلیوالي ژونده بېله کړي داسې اصطلاحات و کاروي، چې د دوی په کلي کې د خلکو پر ژبه نه وي، خو ځینې برعکس د خپل کلیوالي اصطلاحاتو د ژوندي ساتلو لپاره د وینګ ترځنګ په خپل لیکلي ژبه کې هم کاروي او د شعر وشــاعرۍ ډېره برخه یې پر کلیوالي محاورو او اصــطلاحات ولاړه وي؛ د کلیوالي اصــطلاحاتو کارونه په شعر کې پوره مهارت غواړي چې ډېر کم شاعران دا مهارت لري له نېکه مرغه ســالک داسې یو شاعر دی، چې شعر وشاعري یې همدا ځانګړنه لري او په شاعرۍ کې یې ډېر داسې بیتونه موندلای شــو چې له خپلې ادبي ژبې سره یې محلي ژبه ور ګډه کړې ده او ګڼ کلیوالي اصطلاحات او محاورې یې راوړي دي، هغه د دري ژبو خبره (شیر وشکر) یې ترې جوړ کړی وي. اصــطلاح د عادي ژبې برخه ده او د ژبې د نورو عادي کلمو غوندې د هغې د معنا په اړه په ټولنه کې اتفاق لازم دی (غضنفر، ۱۳۹۳، ص. ۱۵۱).

سالک وایي:

موړ یو لحد جوړاوه، خان راته وینا کوله خانه خرابه، در په دریې، ځان ته کور پیدا کړه
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۲۲۸).

په پورته بیت کې (خانه خرابه) یوه محلي اصــطلاح ده، شــاعر یې په راوړلو سره دوې ګټې کړې دي یو خو یې دا اصطلاح ژوندۍ ساتلې ده او بله ګټه یې دا ده په بیت کې یې د راوړلو سره کلام ډېر ښکلی شوی دی، د دې اصطلاح کارونه د دوو موخو لپاره وي، ځینې یې پر مخاطب د زړه ســوي لپاره کاروي چې خپل اشــتباهات اصــلاح کړي او ځینې وخت هم په مقابل لوري د غوسې لپاره د متکلم له لوري استعمالېږي.

بل ځای وایي:

جینی دخدای او د رسول ومنه — په دې خبرو باندې تیره کېږ
خپلې نازکې شوندې څه له سېځې — ده بس په سندرو باندې تیره کېږده
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۳۰).

په پورته بیت کې تیره ایښودل یوه محاوره ده، کله چې د دوو کسانو ترمنځ جنګ جګړه او یا هم لفظي شخړه رامنځته شي او دریم کس چې د دوی ترمنځ منځګړیتوب کوي دواړو لوریو ته دا ویل کیږي، سر له ننه په دې خبرو درنه تیره کښېږدئ اصطلاح کاروي او په دویمه مسره کې (دخدای او رسول منل) هم کلیوالي محاوره ده، دا اصطلاح هغه وخت کارېږي، کوم څوک چې د چا خبره نه مني او بیا داسې الفاظ ورته کاروي ترڅو د مقابل لوري قناعت حاصل شي.

زه ورته ګورم چې د زړونو سکو شرنګ باېللی — ټول زنګ وهلي شان خبرې د امیر اوري اوس
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۲۰۲).

زنګ وهلې خبرې هغه اصطلاح ده، کله چې یوه خبره په بېلابېلو مجلسونو کې واورېدل شي دې خبرو ته زنګ وهلي یا سولېدلې خبرې وایي، سالک خورا په ښکلي انداز په خپل کلام کې راوړې ده.

چې لېونی په بیه جنګ اخلي — ګودر ایله د سولې رنګ اخلي
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۵۰۵).

په پورته بیت کې په بیه جنګ اخیستل یوه کلیوالي اصطلاح ده، دا اصطلاح هغه وخت کارول کیږي، د کومو کسانو چې په ښې خبرې هم جنګ ته تیار وي یا هغه کسان چې جنګ ته پلمه لټوي بیا پورتنۍ اصطلاح ورته کاروي.

د ښکلو ترکیبونو، محاورو او اصطلاحاتو ترڅنګ د سالک شاعري د فن له مخې هم بې ساري ښکلې ده، د نادرو تشبیهاتو ترڅنګ استعارې هم شته استعارې په ادبي فنونو کې ډېر مهم او پېچلی بحث دی ما هم هڅه کړې ده، د ده په کلام کې هغه بیتونه را وباسم چې تشبیه او استعاره پکې کارول شوې وي.

بله خبره دا چې سالک ځینې ځایونو کې یوه عادي محاوره هم په ښکلي هنري انداز کارولې، د شعر په ژبه کې بدیعي او بیاني ښکلاوې ګنې دي؛ نو د سالک کلام هم د دې توکو څخه مالامال دی تشبیه او استعاره چې د بیان علم په زړه پورې موضوعات دي په ډېر ښکلي انداز ده په خپل کلام کې کارولي دي. لاندې بیت یې ښه بېلګه ده.

سالك وايي:

اتل هغه دی چې وطن ته خوشحالي ورکوي　　لکه باران غوندې ډاګونو ته کالي ورکوي
(سالك، ۱۳۹۳، ص. ۳۰٤).

په پورته بيت کې اتل (ځوان) يې له باران سره تشبيه کړی دی، اتل مشبه او باران مشبه به دی، د باران په اورېدو سره ډاګونه زرغونېږي؛ نو د يو هېواد يا ټولنې اتل هم هغه څوك دی چې خلك او هېواد يې له خيره برخمن وي، دا د باران او اتل ترمنځ ګډ صفت هم دی چې دې ته بيا وجه شبه وايي.

زړه مې غر شو ته سپوږمۍ د څوارلسمې　　د غزل پېغلې دې بوټې د سوما وړي
(سالك، ۱۳۹۳، ص. ۷۸).

په پورته بيت کې زړه مشبه او غر مشبه به مخاطب مشبه او سپوږمۍ مشبه به غزل مشبه او پېغله مشبه به ده دلته د تشبيه آدات نه دي کارول شوي موکده تشبيه يې بولو، ګډ صفتونه يې استقامت او ښکلا دي.

ډېري مرغلرې ستا په لټه دي　　را به شي تر هاره لاره ډېره ده
(سالك، ۱۳۹۳، ص. ۲۵۷).

په پورته بيت کې (اوښکې) له (مرغلرو) سره تشبيه شوې دي، خو اوښکې نه دي ذکر شوې ولې د قراينو له مخې ښکاري، چې (مرغلرو) څخه (اوښکې) استعاره دي؛ کله چې شاعر مشبه به راوړي او مشبه ذکر نکړي استعاره يې بولو.

سالك وايي:

شمعې! زه درځمه په لمبو مې هرکلی کوه　　هو پښتونولي ده په لېمو مې هرکلی کوه
(سالك، ۱۳۹۳، ص. ٥٦).

په پورته بيت کې د (شمعې) کلمه له (محبوبا) څخه استعاره شوې ده، مستعار منه ذکر شوی دی مستعارله نه دی ذکر شوی د قراينو پر مټ موږ مستعارله يا د استعارې پټ اړخ پيدا کوو. دلته شمعې ته وايي: زه درځمه او هرکلی مې کوه؛ نو له دې موږ پوهېږو چې شمعه نه ده او يو څوك ده.

څنګه محشر نشي دنيا په بله نشي چپه　　له تورو سترګو نه يې ستوري دم په دم پرېوزي
(درمل، ۱۳۹۵، ص. ۱۰۰).

اوښکې له ستورو سره تشبیه شوې دي؛ اوښکې مشبه او ستوري مشبه به دي. اوښکې(مشبه) نه دي يادې شوي، خو ستوري (مشبه به) شته، مګر له تورو سترګو پرېوتل د اوښکو (مشبه) ځانګړنه ده، چې له مشبه به سره يو ځای شوې ده.

مخکې مې هم يادونه وکړه سالک تر ډېره انځوريزه شاعري کړې ده، را به شو لږ به د تصوير اړوندې موضوع ته تم شو. احسان الله درمل کاږي: «په ساده ډول تصوير هغه عکس دی، چې زموږ د ذهن پر هنداره د يوې کلمې (مثلاً ګلاب) تر اورېدو وروسته جوړېږي؛ په پېچلي توګه تصوير هر هغه مرکب، څو اړخيز او پېچلي خيالي تصور ته ويل کېږي، چې د مختلفو او ګڼو مادي او انتزاعي پديدو د تصوراتو له ترکيب او امتزاجه جوړېږي» (درمل، ۱۳۹۵، ص. ۲۵۳).

ترابي ليکي: «تصويرونه د شعر رغوونکي توکي (اجزا) دي، يعني شعر له معنوي پلوه له تصويرونو څخه جوړېږي. يو شمېر هغه شعري لوازم چې کلاسيکو بلاغت پوهانو د شعر له پاره نومولي لکه تشبيه، استعاره، مجاز او نور او همدا راز هغه لوازم، چې معاصرو لويديځوالو په شعر کې په ګوته کړي لکه سيمبولونه، اسطورې او تمثيلونه ټول هغه توکي دي، چې د شعري تصويرونو د روښانولو او په زړه پورې کولو له پاره کارېږي. له همدې امله په شعر کې ګڼ هنري فنون او د کلام صنعتونه د ښو تصويرونو د ايجاد لپاره کارېږي» (ترابي، ۱۳۹۶، ص. ۲۳۴).

لکه کب چې له اوبو په وچه لوېږي    که له زړه نه دې بهر شمه جانانه
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۵۴۶).

له زړه د لوېدو حالت يې د هغه کب په واسطه تصوير کړی چې وچې ته را لوېږي. دا ټول کمال د همدغو محسوسو توکو او تصويرونو په مټ کېږی.

د بام په سر په ناسته ناسته څمه    سالکه زلفې ټولوه راپسې
(سالک، ۱۳۹۳، ص. ۵۱۵).

په پورته بيت کې (د بام سر، ناسته او زلفې) هغه کلمې دي چې په څرګند ډول يې وينو، ښايسته انځور يې وړاندې کړی دی او دا ټولې کلمې بهرنی مصداق لري.

او بله خبره دا چې ټولې کلمې خارجي مصداق نه لري او ځکه د ټولو کلماتو له اورېدو ذهني تصوير نه جوړېږ ي (درمل، ۱۳۹۵، ص. ۲۵۶).

مصطفی سالک وایي:

د ښاپېرۍ په دې عادت باندې باور لرمه ته به له غېبه را پيدا شې څــه خبره نه ده
(سالك، ۱۳۹۳، ص. ۵۳۹).

دلته د ښاپېرۍ له کلمې څخه زموږ د شعور پر هنداره روښانه تصوير نه جوړېږي؛ ښاپېرۍ مبهم او اساطيري موجود دی، هېڅا تر اوسه نه ده ليدلې؛ نو ځکه ددې کلمې په اورېدو سره زموږ ذهن ته يوازې هغه څه راځي چې موږ د دې په اړه اورېدلي دي.

د تلو په وخت دې سپينې اوښکې مانه، نه دي هېرې راته به بېرته په خنــدا شې څـــــه خبره نه ده

(سالك، ۱۳۹۳، ص. ۵۳۹).

په پورته بيت کې ســپينې اوښــکې او خندا هغه کلمې دي، چې محســوسي دي او په ګډه يې ښکلی انځور وړاندې کړی دی.

ذهني انځور هغه انځور ته ويـل کېږي، چې عيني وجود ونه لري نه حس کېـدونکی وي (ترابي، ۱۳۹۶، ص. ۲۳۹).

ژونـد يې رنځور د وچکالۍ غونـدې وي مرګ يې پر کور، لکـه ســـېلاب راشي
(سالك، ۱۳۹۳، ص. ۲۱۹).

په پورته بيت کې ژوند، وچکالي او مرګ غير حسي-توکي دي او سېلاب حسي-توکی دی، چې د ژوند کړاو له وچکالۍ سره تشبيه شوی دی او په دويمه مسره کې مرګ غير حسی توکی دی له سېلاب سره تشبيه شوی دی. په لومړۍ مسره کې غير محسوس له غير محسوس سره تشبيه ده او په دويمه مسره کې مرګ چې غير حسي توک دی له سېلاب سره چې حسي توک دی تشبيه شوی دی، چې دا غيرمحسـوس له محسـوس سره تشبيه ده، په پورته بيت کې د عيني تصـوير په واسطه ذهني تصوير ته لا قوت بخښل شوی دی.

د سـالك د شـاعرۍ ژبه ممکن ګڼ اړخونه ولري؛ خو ما پورته په لنډ ډول د ده د شـاعرۍ ژبه تشريح کړه، د دې تشريح موخه دا وه، چې موږ د عادي ژبې او هنري ژبې توپير وکړای شو، بلکه هم دا چې څنګه کولای شو د يو شاعر د شعري ژبې خوږوالی او تتوالی تشخيص کړو.

**پايله**

د پايلې په توګه دا ويلای شم، د يو شاعر د شعر د ژبې څخه مراد د ښکلو الفاظو او اوبدل دي، ســـالك هغه شـــاعر دی، چې ژبه يې خوږه احســـاســـات يې ژور او شـــاعري يې انځوريزه ده،

انځورګري شاعري يې د ده شعرونو ته لاښکلا وربخښلې ده، کوم چې دده نوښتونو پښتو ادب ته بخښلې ده.

د دې ليکنې په لوستلو په دې پوهېږو چې سالک د پښتو ژبې او ادب په مخکښانو کې راځي او ټول آثار يې د کميت له مخې ځومره قوي دي هماغومره د کيفيت له پلوه قوي دي.

همدا راز سالک شاعرانه سمبولونه هم په ماهرانه انداز په خپل کلام کې راوړي دي، اساطيري انسانان، حيوانات او افسانه يي الوتونکي يې ښې بېلګې کېدی شي.

**اخځليکونه**


آزمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷). *د پښتو نظم پوهنه*. جلال آباد: ختيځ خپرندويه ټولنه.

آزمون، لعل پاچا. (۱۳۹۹). *شعرپوهنه*. کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

ترابي، محب الله. (۱۳۹٦). *د غزلېز ادبي عظمت*.کندهار:عرفان خپرندويه ټولنه.

درمل، احسان الله. (۱۳۹۵). *شعرستان*. کندهار: بېنوا فرهنګي ټولنه.

رستګار فسايي، منصور. (۱۳۸۰). *انواع شعر فارسي*. شيراز: انتشارات نويد شيراز.

رشيدی، جمشيد. (۱۳۹۷). *ادب تيوري*. کابل: نويسا خپرندويه ټولنه.

سالک، مصطفی. (۱۳۹۳). *سپرلی په خال کې*: دانش خپرندويه ټولنه.

غضنفر، اسدالله. (۱۳۹۳). *جادوګرهنر*. جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.

وفا، محمدداود. (۱۳۹۸). *د پښتو معاصر ادب تاريخ ځلورم پړاو*. دويم چاپ. جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.

هاشمي، سيدمحی الدين. (۱۳۹۵). *ادبي تيوري*. جلال آباد: ميهن خپرندويه ټولنه.